# سر سایی په روژه کی

## امین الدین

## «سعدی سعید افغانی»

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرسایه په روژه کی

امـیـن الـدیـن« سعیـدی – سعید افـغـانی»

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# سرسایه په روژه کی

## د سرسايي ذکرپه اسلامي منابعو کې:

1- صدقةالفطر
2- ز کاة  الفطر
3- زکاةالصوم
4- صدقة په رمضان کی

## د سرسايي فلسفه:

که څه هم د روژې لپاره د صدقة الفطر د ورکولو حکمت په روژه کې دممکن نقصان جبيره کول ښوول شوي، خو تولنيزه فلسفه يې د بې وزلو او نيستمنو خلکو سره مرسته او لاسنيوی دی.
رسول الله صلي الله عليه وسلم  تينگار کړای چې د اختر په مناسبت بايد له بې وسه او مسکين سړي سره مرسته وشي او  هغه له سوال او احتياجه خلاص کړای شي.
پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي:  « **اغنوهم عن المسالة فی مثل هذا اليوم**» ياني په دغه شان ورځو کي فقيران او مسکينان له سوال کولو څخه مستغني ( **بی پروا**) کړئ.
او  همدارنگه وکيع بن الجراح رحمه الله وايي: « د رمضان مياشتي صدقة الفطر (سرسايه) داسي ده لکه **سجده سهوه** په لمانځه کې چې د لمانځه تول نقصان ختموي.
همدارنگه سرسايه د روژې تولې نيمگړتياوي له منځه وړي.»
صدقة الفطر (سرسايه) اصلاً د هجرت په دوهم کال په کوم کال چې روژه هم فرض شوې لازمه شوې ده.  د حکم له مخې، د فطر صدقه واجب ده. د وجوب له دلايلو څخه يې د ابن عباس (رضي الله عنه) خبر دی  چې فرمايي:
« **فَرَضَ  رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) زکاة الفطر طهرة للصايم من اللغو والرفث وطعمة للمساکين**...» رواه ابوداود. ( فرض (واجب) کړې ده  رسول الله د فطر صدقه چې
د روژه  نيوونکي  د بيهوده خبرو او چټياتو پاکونکي ده اود مسکينانو لپاره طعام دی.)

## سرسايه په چا باندې واجب ده؟

د احنافو په مذهب کې: سر سايه  په هر مسلمان ، آزاد ، صغير ، کبير، نارينه ،زنانه، عاقل، او ليوني چې د کور له حاجت نه علاوه د نصاب مالک وي واجب ده.
سړی به د خپل ځان ، کوچنيانو (ځامنواو لورگانو) او هغه غلام چې د خدمت لپاره وي سرسايه اداء کوي . او که چيرته دمشرانو ځامنو، ښځي ، مور، پلار او ورونو صدقة الفطر (سرسايه) د هغوی له امره پرته ادا کړي، استحساناً صحيح کيږي.

## دسر سايي د اداء کولووخت:

دا چې صدقة الفطر (سرسايه) د اختر د ورځې په سهار ختلو سره واجبيږي خو جايزه ده چې د  روژې په مياشت کې له واجب کيدو څخه مخکې ورکړل شي. او له خپل وخت څخه په تأخير سره نه ساقطيږي، بلکه ورکول يې حتمي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحضرت ابن عمر رضی الله عنه ، څخه په یو حدیث کې راغلي چې: پیامبر صلی الله علیه وسلم هدایت ورکړای چې :« **سرسایه** (زکات فطر) مخکې لدې څخه چې مسلمانان داختر دلمانځه اداء کولو ته راشي، باید سرسایه تادیه شي .»( دحدیث شماره 1503 امام بخاري ).

**ګرانو لوستونکو!**

تقاضا، حکمت اونصب العین د وجوب دسرسایې دادی چې دغه وجیبه باید څو ورځې مخکې د اختر د لمانځه نه اداء شي، ترڅو د مستحقین لاس ته ورسیږي.

دحضرت ابن عمر رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُ په یو حدیث کې راغلي: «**و كانوا يُعطُون قبل الفطر بيوم أو يومين** »( بخاری 1511) یعنې:« هغوی خپل د فطر زکات (سرسایه ) یوه یا دوه ورځې مخکې د اختر دلمانځه نه اداء کول »

## په سر سایه کې کوم اجناس ورکول کیږي؟

په سر سایه (صدقه فطر) کې (غنمو، خرما، اوربشې او ممیز(کشمش) ورکول کې واجبیږي. په حدیث شریف کې راغلي :«**عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال : كُنَّا نُخْرِجُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ ، وَكَانَ طَعَامَنَا الشَّعِيرُ ، وَالزَّبِيبُ ، وَالأَقِطُ ، وَالتَّمْرُ**» متفق علیه .

ابو سعید خدري رضي الله عنه وایي: مونږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د واړه اخترو په ورځ دخپلو خوړو یوه صاع سر سایه (صدقه فطر) ورکوله، او زمونږ طعام اوربشې، ممیز، کورت (قروت) او خرما وه .

او د احنافو او امام مالک په نزد انسان کولای شي چې دخپل وطن د خوړو نه که له دې اصنافو پرته هم وی سرسایه ورکولی شي.

## صاع څومره ده؟

صاع څلور مده سره مساوي ده او یو مد د یوه میانه انسان یوه ډکه لپه ده، نو یوه صاع څلور لپې کیږي چې په دې کې دکیلو په حساب دمختلفو موادو په حساب په وزن کې فرق راځي، یعنې دخرما څلور لپې د وریجو له څلور لپو سره په وزن کې فرق کوي.

په اوسط ډول دوزن په حساب ( 2 کیلو او 400 ګرامه یا 2 کیلو 500 ګرامه ) غنم او یاهم وریجې کیږي.

## په سرسایه کې دنغدو پیسو ورکولو حکم:

اګرچه غوره طریقه خو داده چې په سر سایه کې غنم، وریجې یا خرما ورکړل شي مګر دامام ابوحنیفی (رح) دمذهب پیروان د پیسو په بڼه د سرسایې ورکړه روا ګڼلې، او دا د الثوری، حسن البصری، او عمر بن عبدالعزیز نظرهم دی. ولې دري نور مذاهبو پیروان د پیسو په بڼه د سرسایې ادا کولو ته اجازه نه ورکوي.

د هغوی دلیل دا دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم سرسایه د پیسو په بڼه نه ده ورکړې، نو ځکه یې د پیسو په بڼه ورکړه له سنتو مخالف کار دی.

ولی ځینې ډیراوسني علماء د احنافو رایه تائیدوي، ځکه چې اوس مهال د خلکو له پاره آسانه ده، او په ځانګړي ډول په ښارونو کې چې د خلکو ټولې معاملې په روپیو او پیسو دي.

د دغه نظر له اوسنیو پلویانو څخه شیخ شلتوت(رح)، الغزالی(رح)، او القرضاوي(حفظه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله) دي.
شیخ قرضاوي د دې دوه لاملونه وړاندې بیان کړل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولې د پیسو په بڼه سرسایه نه ورکوله. په همدې ډول هغه وایي چې د سرسایې هدف د بېوزلو د اړتیاوو لرې کول دي، او هغه د پیسو په بڼه ممکن دی، او دا چې په زیاترو حالاتو، او په زیاترو هیوادونو کې د پیسو ورکړه د بېوزلو په ګټه وي. هغه دا هم وایي چې د خوراک په بڼه د سرسایې ورکول د رسول الله صلی الله علیه په وخت کې هم د ورکوونکي له پاره اسان وو، او هم د اخیستونکي له پاره په ګټه. مګر نن ورځ د خوراک په بڼه د سرسایې ورکول د بېوزلو په تاوان دي، او چندان ګټه نه شي ترې اخیستلای. مثلاً، غنم یا خُرما چې تر څو ببرته و نه پلوري، او هغه هم په ټیټ نرخ، تر هغې خپلې اړتیاوې نه شي پوره کولای.
شیخ قرضاوي، له دغه نظر څخه د قحطۍ حالات چې د خوراک ورکړه پکې ډېره ګټوره ده، مثتثنی ګرځولي، او وایي چې په سرسایه کې باید د غریب ګټه معیار وګڼل شي، او دا چې د قحطۍ او آفتونو په وخت کې اصلي اړتیا خوراک وي، نو د جنس ورکول په کار دي. او که چېرې پیسې ګټورې وې، نو بیا دې پیسې ورکړي.
نن ورځ که مونږ په اسلامي هیوادونو کې په عامه توګه، او لویدیزو هیوادونو کې په ځانګړې توګه، د مسلمانانو حالت ته وګورو، مومو چې دویمه رایه ډېره اسانه، او د اسلامي قانون له روح، او د مسلمانانو له اوسني حالت سره ډېره روغه ده. او که چېرې په امریکا او یا په اروپا کی میشتي مسلمانان وغواړي د خپل زکات مالونه یا یوه برخه یې اسلامي هیوادونو ته ولیږي، نو د پیسو په بڼه ورکړه یې تر ټولو غوره لاره ده.

## دسرسایې مستحقین:

دسرسایې مستحقین په (60 لمبرآیات دسورهء التوبه کې) داسی بیان شوی :«**إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ**»

بناً سرسایه، د نورو صدقو په شان فقیرانو ، مسکینانو ، قرضدارانو، د الله په لاره کې طالب علمانو مجاهدینو، مسافرینو ( اګرچه دغه مسافرین  په وطن کي غني وي) ورکول کیږي، اوکه دا فقیران یي خپل خپلوان هم وي بلکه په خپلو خپلوانو چې مستحق وي ډېر ثواب لري.
یواځې مور، پلار، نیا او نیکه او همداسې پورته نیاګانې او نیکو ته به یې نه ورکوي که فقیران هم وي په همد ي توګه زوی , لور, او د هغوي اولادونو ته به یې نه ورکوي او ښځه به یې خپل خاوند (میره) ته او خاوند خپلې ښځې ته نه ورکوي نورو ټولو خپلوانو ته چې مستحق وي صدقة الفطر (سرسایه) ورکول کیدای شي.

**و الله اعلم بالصواب**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**